**MACMILLAN CANCER SUPPORT**

Radiotherapy: Pashto

# راډیوتراپي

دغه معلومات د راډیوتراپۍ په اړه دي.

ټول هغه کلمات چې لاندې یې کرښه ایستل شوې په پای کې د تورو یا لغاتو په لېست کې تشریح شوي دي.
د تورو په لېست کې دا هم څرګنده شوې چې په انګلیسۍ کې به دغه کلمات څنګه وایي.

ګڼ شمېر هغه خلک چې سرطان لري، راډیوتراپي به د خپلې درملنې د برخې په توګه ولري. د راډیوتراپۍ بېلابېل ډولونه شتتون لري. موږ یې په دغو معلوماتو کې عمومي ډولونه تشریح کوو.

ځیني خلک به نورو درملنو ته هم اړتیا ولري، لکه کیموتراپي یا جراحي. موږ همدا راز ستاسو په ژبه کې د دې درملنو په اړه معلومات لرو.

که تاسو د دې معلوماتو په اړه څه پوښتني لرئ، په کوم روغتون کې چې ستاسو درملنه کیږي، هلته د خپل ډاکټر یا نرس څخه پوښتنه وکړئ.

تاسو همدارنګه کولای شئ د Macmillan د سرطان له ملاتړ سره د **0808 808 00 00** وړیا تلفوني شمېرې له لارې 7 ورځې په اونۍ کې، د سهار له 8 بجو څخه د ماښام تر 8 بجو پورې اړیکه ونیسئ. موږ ژباړونکي لرو، نو تاسو کولی شئ چې زموږ سره په خپله ژبه خبرې وکړئ. کله چې موږ ته زنګ وهئ، مهرباني وکړئ موږ ته په انګلیسي کې ووایاست چې کومې ژبې ته اړتیا لرئ.

ستاسو په ژبه کې د سرطان په اړه اضافي معلومات په **macmillan.org.uk/translations** کې شتون لري

## دا معلومات د لاندې مواردو په هکله دي:


- راډیوتراپي څه ته وایي؟
- راډیوتراپي ولې ورکول کیږي؟
- ستاسو د راډیوتراپۍ ټیم
- په خپله درملنه باندې پوهېدل
- راډیوتراپي څېرې ورکول کیږي؟
- د خپلې درملنې پلانول
- د راډیوتراپۍ ډولونه
- د راډیوتراپۍ جانبي عوارض
- ناوخته او اوږدمهاله جانبي اغېزې
- Macmillan څنګه کولای شي له تاسو سره مرسته وکړي
- د تورو لیست
- ستاسو په ژبه کې نور معلومات
- مراجع او منني

## راډیوتراپي څه ته وایي؟

رادیوتراپي د سرطان د درملنې لپاره د وړانګو په نوم د لوړې انرژي وړانګې کاروي. دا په هغه سیمه کې د سرطان حجرې ویجاړوي چیرې چې رادیوتراپي ورکول کیږي. دا کولای شي عامې حجرې هم زیانمنې کړي اما دغه حجرې معمولاً له درملنې وروسته بېرته رغېږي.

## راډیوتراپي ولې ورکول کیږي؟

ګڼ شمېر هغه خلک چې سرطان لري، راډیوتراپي به د خپلې درملنې د برخې په توګه ولري. رادیوتراپي د مختلفو دلیلونو لپاره ورکول کیږي.

**د سرطان درملنه کول**

راډیوتراپي د سرطان د ځینو ډولونو د علاج لپاره ورکول کېدی شي. دا کیدای شي پخپله یا به د سرطان د نورو درملنې لکه کیموتراپي سره ورکړل شي. یا کېدی شي له عملیات مخکې یا وروسته ورکړل شي. له عملیات مخکې، کېدی شي تومور کوچنی کړي. له عملیات وروسته، کولای شي هغه حجرې چې له منځه نه دي تللي ووژني.

**د سرطان له نښو سره د مرستې لپاره**

که چیرې د سرطان درملنه ممکنه نه وي، تاسو ممکن د سرطان نښې د کنټرولولو د مرستې لپاره راډیوتراپي ولرئ. دې ته تسکیني راډیوتراپي وایي.

## ستاسو د راډیوتراپۍ ټیم

**د کلینیکی آنکولوجیسټ مشاور**

دا هغه ډاکټر ته ویل کیږي چې په راډیوتراپۍ سره د سرطان درملنه کوي. دا له تاسو سره د درملنې په پلان جوړولو کې مرسته کوي. تاسو ممکن دوی د درملنې ترمخه، په جریان کې او وروسته ووینئ. تاسو همدارنګه کولای شئ غوښتنه وکړئ چې د ملاقاتو ترمنځ یې ووینئ.

**راډیوګرافر**

د راډیوګرافرانو ټیم مرسته کوي چې خپله درملنه پلان کړئ او د راډیوتراپۍ ماشین چلوي. هغوی همدارنګه د هر ډول جانبي عوارضو یا هغو اندېښنو په اړه چې ممکن تاسو یې ولرئ تاسو ته مشوره درکوي.

**طبي نرسي متخصصین**

د سرطان ډیری مرکزونه د سرطان متخصص نرسان لري. دوی ځینې وختونه د طبي نرس متخصص (CNS) په نوم یادیږي. دا هغه نرسانې دي چې ستاسو د سرطان په ډول کې تخصص لري. تاسو کولای شئ د خپلو هر ډول اندېښنو په اړه له دوی سره خبرې وکړئ. هغوی کولای شي تاسو د درملنې په جریان کې او وروسته له درملنې ملاتړ او معلومات درکړي. هغوی همدرانګه کولای شي د هر ډول جانبي عوارضو په مدیریت کې مرسته وکړي.

**ستاسو کلیدي کارمند**

ستاسو کلیدي کارمند هغه کس دی چې تاسو ورسره اړیکه ونیسئ که تاسو نورو معلوماتو یا ملاتړ ته اړتیا لرئ. عموما، یو راډیوګرافر یا نرس متخصص ستاسو په ټیم کې ستاسو کلیدي کارمند دی. که تاسو ډاډه نه یاست چې ستاسو کلیدي کارمند څوک دی، تاسو په راتلونکي ملاقات کې له یو چا څخه پوښتنه وکړئ.

## په خپله درملنه باندې پوهېدل

مخکې له دې چې درملنه وکړئ، ستاسو ډاکټر، نرس یا راډیوګرافر به تاسو ته لاندې موارد تشریح کړي:

- تاسو ولې اړتیا ورته لرئ
- څو ځله به یې کاروئ
- ممکن جانبي عوارض
- له درملنې وروسته به تاسو څنګه احساس لرئ.

هېڅ ډول درملنه باید ترسره نشي مګر دا چې تاسو په دې وپوهېږئ چې تاسو ولې دغه درملنه کوئ او دا چې تاسو به څنګه احساس ولرئ. له تاسو څخه به د اجازې کولو غوښتنه وشئ مخکې له دې چې تاسو کومه درملنه وکړئ. دې ته د رضایت ورکول وایي. دا ښيي چې تاسو له درملنې سره موافق یاست او د هغې پر ممکنو جانبي اغېزو پوهېږئ.

دا یو ښه نظر دی چې له ځان سره یو څوک بوځئ چې په دواړو ژبو، ستاسو په ژبه او په انګلیسي خبرې کوي. ځینې وختونه روغتون ستاسو لپاره ترجمان چمتو کوي. هغوی معمولاً دا کار باید له مخکې څخه تنظیم کړي. نو که تاسو ترجمان ته اړتیا لرئ، روغتون ته له ملاقات مخکې ووایاست.

## راډیوتراپي چېرې ورکول کېږي؟

راډیوتراپي په روغتون کې ورکول کېږي. تاسو معمولاً خپله درملنه د ورځې د ناروغ په توګه ترسره کوئ. دا په دې مانا ده چې تاسو د شپې له خوا پاتې کېدو ته اړتیا نه لرئ او کولای شئ له خپلې درملنې وروسته خپل کور ته لاړ شئ. د راډیوتراپۍ له ځینو ډولونو سره، تاسو ښايي څو ورځې په روغتون کې پاتې کېدو ته اړتیا ولرئ.

که تاسو روغ نه یاست او همدارنګه کیموتراپي‌لرئ، تاسو ښايي په روغتون کې د بستر ناروغ په توګه پاتې کېدو ته اړ شئ. په دې حالت کې، به تاسو هره ورځ د وارډ د لارې د راډیوتراپي څانګې ته لاړ شئ. که تاسو وغواړئ د راډیوتراپي د درملنې لپاره روغتون ته اوږد سفر وکړئ، تاسو ممکن د داخل بستر ناروغ ته اړتیا ولرئ.

## د خپلې درملنې پلانول

مخکې له دې چې تاسو خپله درملنه پیل کړئ، باید پلان شي. راډیوتراپي د هر شخص لپاره په دقت سره پلان کېږي. دا دې لپاره چې ډاډ حاصل شي چې درملنه په سمه توګه کار کوي او د امکان تر حده یوازې یو څو جانبي اغېزې رامنځ ته کوي. ستاسو د درملنې پلان کول ممکن د یو وار لیدنې څخه ډېر وخت ونیسي. ستاسو د راډیوتراپۍ ټیم به درته ووایي چې څه تمه باید ولرئ.

**د سکن معاینات**

مخکې له دې چې تاسو خپله درملنه پیل کړئ تاسو به یوه یا څو د سکن معایناتو ته اړتیا ولرئ. دا ستاسو له ټیم سره مرسته کوي چې پرېکړه وکړي تاسو څومره راډیوتراپۍ ته اړتیا لرئ. دا همدارنګه له دوی سره مرسته کوي چې په دقیقه توګه دا پلان کړي چې راډیوتراپي په کوم ځای کې ورکړل شي.

د سکین څخه مخکې، ستاسو څخه د روغتون د جامو د بدلولو غوښتنه کېدی شي. د ټیم کوم غړی ممکن تاسو ته رنګ پیچکاری هم درکړي. دا به مرسته وکړي چې سکن څخه یو صاف عکس ترلاسه شي.

**قالبونه او ماسکونه**
تاسو ښایي د خپلې درملنې لپاره قالب یا د رادیوتراپۍ ماسک ته اړتیا ولرئ. که تاسو کوم یو غواړئ، ستاسو د راډیوتراپۍ ټیم به یې درته چمتو کړي. قالب یا ماسک به له تاسو سره مرسته وکړي چې نېغ او په سم موقعیت کې کېښېنئ. قالبونه د پېښي، لاس یا د بدن د نورو اعضاوو لپاره دي. مساکونه د سر یا غاړې لپاره دي.

قالب یا ماسک له پلاستیکي بافت څخه جوړ شوي دي. دا کلک بندېږي اما باید ناراحتوونکی نه وي. تاسو دا یوازې د لنډې مودې لپاره اغوندئ. تاسو به یې هغه مهال واغوندئ کله چې

- ستاسو درملنه پلان کېږي
- کله مو چې درملنه ترسره کېږي.

تاسو د ماسک د اغوستلو پر مهال په عادي توګه کولای شئ ساه واخلئ.

**د راډیوتراپۍ ماسک**



**په پوستکي باندې نښې**
ستاسو د راډیوتراپۍ له ټیم څخه کوم څوک ښایي ستاسو په پوستکي باندې کوچنۍ دایمي نښې وکړي. دغه نښې ښیي چې راډیوتراپي دقیقاً کوم ځای ته ورکړل شي. نښې د ټاټو په شان یو ډول جوړېږي. دا نښې به یوازې ستاسو په اجازه جوړې شي. که تاسو د دوی په اړه اندیښمن یاست یا مخکې د درملنې په ساحه کې ټاټو لرئ، خپل راډیوګرافر ته وواياست.

**د زېږون قابلیت**
راډیوتراپي ښایي ستاسو د امېندوارۍ پر وړتیا اغېز وکړي یا بل څوک امېندواره کړئ. ګڼ شمېر خلک له دې سره په تعامل کې ستونزمن ګڼي. که تاسو په دې اړه اندېښنه لرئ، مخکې له دې چې درملنه مو پیل شي، له خپل ډاکټر یا نرس سره خبرې وکړئ. هغوی کولای شي تاسو ته ووايي چې څه تمه باید ولرئ او دا چې څنګه خپله ګټورتیا خوندي وساتئ. له مشاور یا مذهبي مشر سره خبرې کوم هم ښایي ګټور وي.

**د امېندوارۍ مخنيوی**
ستاسو ډاکټر به تاسو ته ووايي چې د درملنې په جريان کې ځان يا کوم بل څوک مه امېندواره کوئ. دا ځکه چې راډيوتراپي کېدی شي د ودې په حال کې ماشوم ته زيان اړوي. دا مهمه ده چې د راډيوتراپۍ په جريان کې او څو مياشتې وروسته د امېندوارۍ ضد درمل/وسايل وکاروئ. که تاسو په دې اړه اندېښنه لرئ، کولای شئ له خپل ډاکټر يا نرس سره خبرې وکړئ.

## د راډيوتراپۍ ډولونه

د راډيوتراپۍ بېلابېل ډولونه شتتون لري.

- **بهرنۍ راډيوتراپي** – د راډيوتراپۍ د ماشين په واسطه د بدن له باندې څخه ورکول کېږي.
- **داخلي راډيوتراپي** – کله چې راډيو اکټيف مواد ستاسو په بدن کې اچول کېږي. داخلي راډيوتراپي دوه ډولونه لري: براکي تراپي او راډيو ايزوتوپ تراپي.

ستاسو د راډيوتراپۍ ښکاره کول پدې پورې اړه لري چې سرطان په بدن کې چيرې او څه ډول دی. ځينې سرطانونه د بهرنی او داخلي راديوتراپي پواسطه درملنه کيږي

له خپل ډاکټر څخه پوښتنه وکړئ چې تاسو به يې کوم ډول ولرئ ترڅو تاسو وکولای شئ د دغو معلوماتو سمې برخې ولولئ.

**د بهرني بيم راډيوتراپي**
دا هغه مهال وي کله چې راډيوتراپي د راډيوتراپۍ له ماشين څخه په استفادې سره له بدن څخه د باندې ورکول کېږي. تاسو معمولا په ورځ کې يو راډيوتراپۍ سيشن لرئ، ډيری وختونه د اونۍ په پای کې د آرام سره. ځينې روغتونونه د اونۍ د پای په رخصتيو کې هم درملنه کوي، چې بيا ناروغ د اونۍ په جريان کې استراحت کوي.

د درملنې تعدا چې تاسو يې کوئ د سرطان په ډول او اندازه پورې اړه لري.

درملنه هره ورځ يوازې څو دقيقې وخت نيسي اما که چېرې روغتون مصروف وي تاسو بايد د خپلې درملنې لپاره انتظار وکړئ. دا مرسته کوي چې تاسو د انتظار په وخت کې ځينې کارونه ترسره کړئ، لکه مطالعه کول يا موسيقي اورېدل.

ستاسو له لومړۍ درملنې مخکې، د راډيوتراپۍ ټيم به تاسو ته تشريح کړي چې څه به پېښېږي. دوی ممکن له تاسو څخه وغواړي چې د روغتون جامې بدلې کړي. د درملنې د ترسره کولو په اړه اندېښنه لرل عام دي. اما کله چې تاسو خپل د راډيوتراپۍ ټيم وپېژنئ او په دې پوه شئ چې څه پېښېږي، هر څه ستاسو لپاره آسانه کېږي.

دا ښايي يو څه وخت ونيسي چې تاسو د درملنې لپاره په سم موقف کې برابر کړي. تاسو بايد ډېر آرام وغځېږئ. راډيوګرافران به څراغونه تت کړي. کله چې درملنه ترسره کېږي هغوی به له اطاق څخه ووځي. د راډيوتراپۍ ترسره کول درد نه لري او د راډيوتراپۍ ماشين معمولاً ستاسو بدن نه لمس کوي.

**څوک چې د بهرني بیم راډیوتراپي لري**



راډیوګرافران به تاسو د څنګ له اطاق څخه څاري، یا د کړکۍ له لارې یا پر سکرین باندې. نور هېڅوک نشي کولای تاسو وویني. دلته عموما یو انټرکام سته، که تاسو د درملنې پرمهال اړتیا ولرئ تاسو کولای شئ له دوی سره خبرې وکړئ.

ماشین ښايي ستاسو د بدن په شاوخوا حرکت وکړي ترڅو له مختلفو جهتونو څخه ستاسو درملنه وکړي. کله چې درملنه پای ته ورسېږي، راډیوګرافران به بېرته اطاق ته راشي او له تاسو سره به مرسته وکړي چې له ماشین څخه ښکته شئ.

دغه درملنه به تاسو راډيو اکټيف نکړي. دا به ستاسو لپاره خوندي وي چې له نورو خلکو سره واوسېږئ، لکه ماشومان له درملنې وروسته.

**براکي تراپي**
Brachytherapy یو ډول راډیوتراپي ده چې د بدن دننه ورکول کیږي. دا په عمده توګه د پروستاټ، رحم او په رحم کې د سرطان د درملنې لپاره کارول کیږي. ستاسو د روغتیا پاملرنې ټیم به ستاسو د درملنې پلان تشریح کړي. پدې کې کیدلای شي بهرنی بیم رادیوتراپي یا نورې درملنې لکه کیموتراپي، هورمونول درملنه یا هدف شوي درملنه د برچيتراپی څخه مخکې یا وروسته شامل وي.

Brachytherapy راډيو اکټيفسرچينې کاروي چې ستاسو په بدن کې سرطان ته نږدې ځای پر ځای کیږي. کله چې دا ستاسو بدن ته اچول کیږي، تاسو به د انستېزی په واسطه بې هوښه کیږئ. یا ښايي تاسو د درد وژونکې پیچکارۍ وکړئ.

تاسو کولای شئ خپله درملنه وکړئ او په هماغه ورځ کور ته ولاړ شئ یا تاسو ممکن په روغتون کې پاتې شئ. دا د بریکیتراپۍ په یو ډول پورې اړه لري چې تاسو یې لرئ. تاسو به درملنې پر مهال د یوه څه مودې لپاره چې راډیوتراپۍ ترسره کېږي، د درملنې په اطاق کې یوازې یاست. دا د دې لپاره چې نور خلک له درملنې خوندي وي. که تاسو په دې اړه اندېښنه لرئ خپل ټیم ته وواياست ترڅو هغوی له تاسو سره مرسته وکړي. هغوی به تاسو دا تشریح کړي چې ستاسو درملنه څومره وخت نیسي.

هرڅومره چې ژر سرچینه ستاسو له بدن څخه لرې شي، ستاسو شاوخوا خلکو ته هیڅ خطر نشته. تاسو راډیو اکټیو نه یاست.

د براکي تراپۍ د ځینو ډولونو لپاره، پیوند نه ایسته کېږي. له ډېرو نورو خلکو سره یو ځای اوسېدل به ستاسو لپاره خوندي وي. ستاسو ډاکټر ښایي له تاسو څخه غوښتنه وکړي چې له ماشومانو او امېندواره ښځو سره له نږدې څخه تماس مه لرئ. هغوی به تاسو ته ووايي چې د څومره مودې لپاره باید دا کار وکړئ.

ستاسو ټیم به ستاسو د درملنې په اړه معلومات درکړي چې هر یې له ځان سره لېږدوئ.

**راډیو ایزوتوپ تراپي**

دغه د راډیوتراپۍ یو ډول دی چې د بدن دننه ورکول کیږي. تاسو راډیواکټیو مایع لرئ:

- په خوله کې د څښاک یا کپسول په توګه
- په رګ کې د تزریق په توګه

سرطاني حجرې د عادي حجرو په پرتله ډېره کچه مایعات اخلي. چې په دې سره سرطاني حجرې له منځه وړي.

له درملنې وروسته، ستاسو د بدن مایعات یو څه راډیواکټیف کېږي. هغوی به بېرته په تدریجي ډول عادي حالت ته راوګرځي. ستاسو ټیم به تاسو ته له تشناب څخه د استفادې او په خوندي ډول د بدن د تویې شوو مایعاتو د پاکولو په اړه لارښوونې درکړي. هغوی ښایي له تاسو څخه غوښتنه وکړي چې له ماشومانو او امېندواره ښځو سره له نږدې څخه تماس مه لرئ. هغوی به تاسو ته ووايي چې د څومره مودې لپاره باید دا کار وکړئ.

که هغوی تاسو ته ووايي چې باید په روغتون کې پاتې شئ، له تاسو ښایي غوښتنه وشي چې په خپل اطاق کې د ټولې مودې لپاره یوازې پاتې شئ. که تاسو په دې اړه اندېښنه لرئ خپل ټیم ته وواياست ترڅو هغوی له تاسو سره مرسته وکړي.

## د راډیوتراپۍ جانبي عوارض

راډیوتراپي په هر چا باندې په متفاوت ډول اغېز کوي. ځینې خلک ډېر لږ جانبي عوارض لري په داسې حال کې چې ځینې نور بیا ډېر جانبي عوارض لري. موږ دلته تر ټولو عام جانبي عوارض تشریح کوو. د دې احتمال نشته چې تاسو دغه ټول جانبي عوارض ولرئ.

له درملنې مخکې، ستاسو د راډیوتراپۍ ټیم به له تاسو سره خبرې وکړئ چې تاسو کېدی شي کوم ډول جانبي عوارض ولرئ. هر ډول پوښتنه چې لرئ له هغوی څخه یې وپوښتئ. که د درملنې په جریان کې هر ډول جانبي عوارض درته پیدا کېږي، خپل ټیم ته وواياست. هغوی کولای شي د مرستې لپاره مشورې یا درمل درکړي. که تاسو کله چې کور کې یاست د ناروغۍ احساس کوئ، روغتون ته زنګ ووهئ.

**ستړیا**

تاسو ښایي د درملنې په جریان کې او له درملنې وروسته د څلورو اونیو یا میاشتو لپاره ډېر د ستړیا احساس وکړئ. هره ورځ روغتون ته سفر کولای شي ستاسو ستړیا لا ډېره کړي. یو څه دمه وکړئ.

که کولی شئ ډېره مهمه ده چې هر ورځ لږ ورزش وکړئ. لنډه فاصله پلې تګ کېدی شي تاسو ته انرژي درکړي.

**د ناروغۍ احساس لرل**
درملنه کولی شي تاسو ته د ناروغۍ احساس درکړي یا ناروغ شئ. دا ډیر احتمال لري که تاسو معدې یا دماغ ته نږدې علاج وکړئ ستاسو د درملنې ټیم به د دې لپاره چې د ناروغۍ احساس مو کم شي، تاسو ته درمل درکړي.

**خوړل او څښل**
ځینې وختونه تاسو ښایي ونه غواړئ خوراک وکړئ. کچیرې داسې وشي، د دې پرځای چې ډیره ډوډۍ وخورئ کوښښ وکړئ چې په منظم ډول یو څه خواړه وخورئ. که تاسو په خوړلو کې ستونزه لرئ، دا مهمه ده چې خپل د راډیوتراپۍ ټیم ته ووایاست. هغوی به تاسو ته مشوره درکړي.

**خپل پوستکي ته پاملرنه کول**
د هغې ساحې پوستکی چې درملنه یې کیږي ښایي په لاندې ډول تغیر وکړي:

- سور شي
- تور شي
- سوزش یا خارښت ولري.

که تاسو په خپل پوستکي کې دا ډول تغیرات لرئ، په سملاسي توګه خپل د راډیوتراپۍ ټیم ته ووایاست.
هغوی کولای شي تاسو ته مشوره او درملنې درکړي.

دلته ځینې مهم ټکي شته چې ښایي ګټور وي:

- د کتان په څېر له فایبر څخه جوړې آزادې جامې واغوندئ
- خپل پوستکی په ملایم، بې عطره صابون او اوبو سره په آرمۍ سره ومینځئ او په آرمۍ سره یې وچ وکړئ
- پوستکی مو مه موښئ
- ډیر ګرم شیان مه کاروئ، لکه د تودوخې پیډ
- د کولنګ د پیډونو څخه کار مه اخلئ مګر دا چې ستاسو ټیم سمه وګڼي.
- خریلي ځای مه لمدوئ
- د واکس او لایزر درملنې په څېر د وېښتو د لرې کولو کریمونه یا محصولات مه کاروئ
- د راډیوتراپۍ له ټیم څخه پوښتنه وکړئ چې ایا کولای شئ په خپل پوستکي باندې له مرطوب کوونکي یا بوی لرې کوونکي وکاروئ
- خپل پوستکی له لمر څخه وساتئ.

**د ویښتانو رژیدل**
تاسو به یوازې د بدن له هغې ساحې څخه وېښتان له لاسه ورکوئ چې درملنه یې کیږي. ځینې خلک د وېښتانو د له لاسه ورکولو په اړه اندېښنه لري. که تاسو په دې اړه اندېښنه لرئ، له خپل ډاکټر یا نرس سره خبرې کول به ګټور وي.

دا معمولا د درملنې تر پای ته رسیدو وروسته بیا وده کوي. ځینې وختونه دا د پخوا په پرتله مختلف جوړښت یا رنګ تولیدوي. دا ستاسو د راډیوتراپۍ په خوراک پورې اړه لري، دا ممکن څو میاشتې وخت ونیسي ترڅو بیرته وده وکړي.

**ستاسو په وینه کې تغیرات**
ځینې وختونه راډیوتراپي ستاسو په بدن کې د وینې حجرې کمولی شي. ستاسو د راډیوتراپۍ ټیم ښایي ستاسو لپاره د وینې آزموینې ترتیب کړي ترڅو د وینو د حجرو تعداد چې تاسو یې لرئ مشخص کړي. ځینې کسان د درملنې ته اړتیا لري، که یې د وینې د ځانګړو حجرو کچه خورا ډېره کمه وي.

که پړسوب یا خونریزي لرئ او په دلیل یې نه پوهیږئ، همېشه خپل ټیم ته ووایاست. په دې کې لاندې نښې نښانې موجودې دي:

- د پوزې وینې کېدل
- وینه لرونکي لاړې
- په پوستکي باندې کوچني سره یا ارغواني داغونه چې ښایي د بخار په څېر ښکاره شي.
- درنې دورې
- ستاسو په تشو یا ډکو بولو کې وینه

د لاندې مواردو په صورت کې هم باید تاسو په **سملاسي توګه د راډیوتراپۍ له ټیم سره اړیکه ونیسئ:**

- ستاسو تودوخه د37.5°C (99.5°F) لوړېږي یا تر 36°C (96.8°F) ښکته کېږي
- کله چې تاسو په ناڅاپي ډول ناروغه کېږي، حتی که د بدن د حرارت درجه مو عادي وي
- تاسو د عفونت نښې نښانې لرئ- په دې کې شاملېږي:
  - د لړزې او ښورېدو احساس لرل
  - د ستوني التهاب
  - ټوخی
  - ساه لنډي
  - اسهال
  - د ډېر ادرار دفعه کولو اړتیا، یا د ادرارو د دفعې پر مهال ناآرامي.

**اسهال**
که تاسو خپلې لګن خاسرې ته نږدې درملنه لرئ، دا عامه ده چې غایطه مواد (ډکې میتیازې) مو رقیقې وی یا اسهال ولرئ. تاسو ښایي له معمول څخه ډېر تشناب ته د تګ اړتیا ولرئ. دا ډېره مهمه ده چې په کافي اندازه مایعات وڅښئ. ستاسو ډاکټر یا نرس کولای شي تاسو ته ووایي چې څه شی د څښاک لپاره تر ټولو ښه دي. که تاسو اسهال یا د ګېډې (نس) درد لرئ، د روغتون کامندانو ته ووایاست. دوی کولی شي تاسو ته د مرستې لپاره تابلېت درکړي.

**د ادرار په کولو کې ستونزې**
د مثانې سره نږدې په درملنې کولو سره جانبي عوارض پیدا کېږي، لکه:

- له معمول څخه ډېر میتیازې کول
- د شپې لخوا ادرار کول
- د ادرار په وخت کې د سوزش احساس کول (لکه د ادرارو انتان درلودل)
- داسې احساس چې کله تاسو ادرار ته اړتیا لرئ نو ځان نشئ کنټرولولی
- په ادرار کې مو وینه لرئ
- بې اختیاره د ادرار وتل (د ادرار بې نظمي)

که د درملنې په جریان یا وروسته کې هر ډول جانبي عوارض درته پیدا کېږي، خپل د راډیوتراپۍ ټیم ته ووایاست. د ډېرو مایعاتو څښل ښایي مرسته وکړي.

ډاکټر یا نرس ته په سملاسي توګه ووایاست که چېرې

- ستاسو نښې بدتره شوي
- لوړه تبه لرئ
- احساس کوئ ادرار نشئ کولای.

د پروستات یا تناسلي آلې د سرطان لپاره راډیوتراپي ځیني وختونه د ادرار خارجول ستونزمنوي. که دا پیښ شي، تاسو ممکن درمل ته اړتیا ولرئ چې مرسته کوي. یا تاسو ممکن یو تیوب (کیتیټر) د لنډ وخت لپاره مثانه ته واچوئ.

**د ستوني درد**

که تاسو د خپل سر یا غاړې درملنه کوئ، ستاسو خوله ښایي وخوږیږي. دا کېدی شي د خوړو په تېرولو کې ستونزې رامنځ ته کړي. دا ډېره مهمه ده چې د درملنې په جریان کې خپلې خولې ته پاملرنه وکړئ. ستاسو ټیم به درته وښیي چې دا کار څنګه وکړئ. دا کولای شي د لاندې مواردو په مخنیوي کې مرسته وکړي:

- سګرټ څکول
- الکول څکل
- ډېر ګرم خواړه

که چیرې مو خوله درد کوي یا د خولې زخم لرئ، دا مهمه ده چې خپل ډاکټر یا نرس ته ووایاست. هغوی کولای شي د مرستې لپاره د خولې مینځونکی او درد وژونکي درمل درکړي.

## ناوخته او اوږدمهاله جانبي اغېزې

رادیوتراپي په احتیاط سره پلان شوې او درملنه ورځ تر بلې دقیق کیږي. پداسې حال کې چې د بدن نورو برخو ته د امکان تر حده لږ زیان رسوي دا ستاسو ټیم ته اجازه ورکوي ترڅو د سرطان درملنه وکړي.

مګر لاهم ممکن یو خطر موجود وي چې تاسو به داسې جانبي عوارض ولرئ چې:

- د درملنې وروسته ښه نه شئ- دې ته اوږدمهاله جانبي اغېزې ویل کیږي
- یوازې میاشتې یا کلونه وروسته پیل کیږي - دې ته ناوخته اغېزې ویل کیږي.

که تاسو نورې درملنې هم ولرئ، لکه کیموتراپي دا خطر ممکن لوړ وي.

مخکې له دې چې تاسو د سرطان درملنې لپاره پریکړه وکړئ، ستاسو ټیم به ستاسو د دې جانبي عوارضو پراختیا خطر تشریح کړي.

## د خپل ځان لپاره مناسب مراقبت او ملاتړ ترلاسه کول

که تاسو سرطان لرئ او په انګلیسي ژبه خبرې نه کوئ، تاسو ښایي اندیښنه ولرئ چې دا به ستاسو د سرطان په درملنه او مراقبت باندې اغېز وکړي. اما ستاسو د روغتیاپالنې ټیم باید تاسو ته داسې مراقبت، ملاتړ او معلومات وړاندې کړي چې ستاسو اړتیاوې پوره کړي.

موږ پوهیږو چې ځیني وختونه خلک ښایي د سم ملاتړ په ترلاسه کولو کې له اضافي ننګونو سره مخ شي. د بېلګې په توګه، که تاسو کار کوئ یا کورنی لرئ نو دا به سخته وي چې د روغتون ملاقاتونو ته د تګ لپاره وخت ولرئ. تاسو همدارنګه ښایي د پیسو او د ترانسپورتي لګښتونو په اړه اندېښنه ولرئ. دغه ټول شیان سټرېس رامنځ ته کوي او مبارزه ورسره سخته ده.

اما مرسته شتون لري. زموږ د مرستې وړیا تلفوني کرښه **0808 808 00 00** کولای شي ستاسو د وضعیت په هکله، ستاسو په ژبه، تاسو ته لارښووني وړاندې کړي. تاسو کولای شئ له نرسانو، مالي لارښوونکو، د هوساینې د حقونو له مشاورینو او د کار د ملاتړ له مشاورینو سره خبرې وکړئ.

موږ همدارنګه په سرطان باندې د اخته کسانو لپاره د Macmillan بلاعوضه مرستې وړاندې کوو. دغه یو ځلي تادیات دي چې د روغتون د پارکېنګ، سفري لګښتونو، د ماشوم د مراقبت یا د ګرمولو د بېلونو په شان شیانو لپاره استفاده ورڅخه کیږي.

## Macmillan څنګه کولای شي له تاسو سره مرسته وکړي

په Macmillan کې، موږ پوهیږو چې د سرطان تشخیص څنګه کولای شي په هر څه باندې اغېز وکړي، او موږ دلته ستاسو د مرستې لپاره یو.

**د Macmillan د ملاتړ مرکز تلفوني کرښه**
موږ ژباړونکي لرو، نو تاسو کولای شئ له موږ سره په خپله ژبه باندې خبرې وکړئ. یوازې موږ ته په انګلیسي ژبه د هغې ژبې په هکله ووایاست چې تاسو خبرې پرې کوئ. موږ کولای شو د طبي پوښتو په برخه کې له تاسو سره مرسته وکړو، د مالي مرسته په هکله معلومات درکړو، او که غواړئ له چا سره خبرې وکړئ، موږ ستاسو غوښتنو ته غوږ ونیسو. د تلفون وړیا او محرمه کرښه په اونۍ کې 7 ورځې د سهار له 8 بجو د شپې تر 8 بجو پورې پرانېستې ده. موږ ته په **0808 808 00 00** شمېره زنګ ووهئ

**وېب چېټ**
تاسو کولای شئ موږ ته د وېب چېټ پیغام واستوئ او موږ ته ووایاست چې ژباړن ته اړتیا لرئ. موږ ته په انګلیسي کې د هغې ژبې په هکله ووایاست چې اړتیا ورته لرئ، او زموږ کس به له تاسو سره اړیکنه ونیسي. په ' Chat to us' بټنه باندې کلیک وکړئ چې د وېب پاڼې په ټولو پاڼو باندې ځرګندیږي. یا **macmillan.org.uk/talktous** ته لاړ شئ

**د Macmillan وېب پاڼه**
زموږ وېب پاڼه د سرطان په هکله په انګلیسي ژبه ډېر معلومات لري. همدارنګه په نورو ژبو باندې هم په **macmillan.org.uk/translations** کې معلومات شتون لري

موږ همدارنګه کولای شو یوازې ستاسو لپاره د ژباړې خدمات وړاندې کړو. د هغه څه په اړه چې اړتیا ورته لرئ، موږ ته په **cancerinformationteam@macmillan.org.uk** باندې برېښنالیک واستوئ.

**د معلوماتو مرکز**
زموږ د معلوماتو او ملاتړ مرکزونه په روغتونونو، کتابتونونو او د تلفون په مرکزونو کې دي. د اړتیا وړ معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره زموږ یوه معلوماتي مرکز ته مراجعه وکړئ او مخامخ له یو چا سره خبرې وکړئ. خپل تر ټولو نږدې مرکز په **macmillan.org.uk/informationcentres** کې ومومئ یا موږ ته په **0808 808 00 00** شمېره زنګ ووهئ.

**د ملاتړ محلي ګروپونه**
د ملاتړ په ګروپ کې، تاسو کولا شئ له نورو هغو خلکو سره خبرې وکړئ چې له سرطان څخه اغېزمن شوي دي. په خپله سیمه کې د ملاتړ د ګروپونو په هکله په **macmillan.org.uk/supportgroups** کې معلومات ولولئ یا موږ ته په **0808 808 00 00** شمېره زنګ ووهئ.

**د Macmillan آنلاین ټولنه**
تاسو همدارنګه کولای شئ په آنلاین ډول له نورو هغو خلکو سره چې د سرطان له امله اغېزمن شوي دي د **macmillan.org.uk/community** له لارې خبرې وکړئ چې تاسو کولای شئ د شپې یا ورځې په هر وخت کې لاسرسی ورته ولرئ. تاسو کولای شئ خپلې تجربې شریکې کړئ، پوښتنې وکړئ، یا فقط د خلکو د پوستونو له لارې معلومات ولولئ.

# د تورو لیست

| کلمه (پښتو) | په انګلیسي | په انګلیسي کې څنګه ووایاست (د انګلیسي کلمې تلفظ) | مانا |
|---|---|---|---|
| بې ضرره | Benign | بینن | په بدن کې یوه غده چې سرطاني نه ده او په بدن کې بل ځای ته نه انتقالیږي. |
| حجرې | Cells | سیلز | د خښتو په شان کوچنی تختې چې زموږ د بدن غړي او انساج تشکیلوي. |
| رحم | Cervix | سیرویکس | سرویکس د رحم د ننوتلو لاره ده. دا د ښځې په بدن کې د واژن د پاسه دی. هغه کسان چې سرویکس لري عبارت دي له ښځینه، دوه جنسیته وو نارینه او ښځو او هغو نرښځیان څخه چې د زیږون پر مهال ښځې زیږیدلې وي. |
| کیموتراپي | Chemotherapy | کیموتراپی | د سرطان داسي درملنه چې له درملو څخه په استفادې سره سرطاني حجرې له منځه وړي. |
| د امېندوارۍ مخنیوی | Contraception | کانټراسیپشن | درمل او وسایل چې امیندواري ودروي |
| تداوي شوی | Cured | کیورډ | کله چې ستاسو په بدن کې سرطاني حجرې پاتې نشي. |
| اسهال | Diarrhoea | ډیارهویا | کله چې تاسو نرم او اوبه لرونکي غایطه مواد لرئ. تاسو ښایي له معمول ډېر یا په عاجله توګه تشناب ته اړتیا ولرئ. تاسو همدارنګه ښایي د ګېډې درد ولرئ. |
| لمفاتیک سیستم | Lymphatic system | لیمپاټک سیستم | په ټول بدن کې د رګونو او غدو یوه شبکه ده چې د انتاناتو سره په مبارزې کې مرسته کوي. |
| مهلک | Malignant | مالیګنانټ | په بدن کې یوه غده ده چې سرطاني ده او ټول بدن ته پراخیدلی شي. |
| لګن خاصره | Pelvis | پیلوس | ستاسو د ورنونو او ستاسو د نو لاندې ترمنځ ساحه. |
| پروستات | Prostate | پروسټاټ | په بدن کې یوه کوچنۍ غده. دا مثانې ته نږدې ده. هغه خلک چې پروستات لري عبارت دي له نارینه وو، دوه جنسیته ښځې او هغو نارینه وو څخه چې د زیږون پر مهال نارینه زیږیدلي وي. |
| راډیواکټیف | Radioactive | راډیو اکټیف | که کوم څه راډیواکټیف وي، دا په دې مانا ده چې شعاع خپروي. |

| | | | |
|---|---|---|---|
| سکېن | Scan | سکن | کله چې ډاکټران ستاسو د بدن د دننه برخې انځور اخلي. |
| جانبي عوارض | Side effects | سایډ ایفیکټس | د سرطان د درملنې غیرمطلوبې اغېزې د بېلګې په توګه، د وېښتو توېېدل، د ناروغتیا یا ستړیا احساس لرل. ډېری جانبي عوارض د درملنې له پای ته رسېدو وروسته له منځه ځي. |
| جراحي عملیات | Surgery | سرجری | د عملیاتو لرل |
| تومور | Tumour | ټومور | د داسې حجرو ګروپ دی چې په غیر عادي توګه وده کوي. غیر عادي حجرې ډېرولو ته دوام ورکوي او غده تشکیلوي. |
| واجینا یا فرج | Vagina | ویجینا | بدن ته دننه یوه لاره. د فرج خوله ستاسو د پښو په منځ کې ده.<br>د فرج د پاسه د رحم خوله ده، چې بیا رحم ته تللې ده. هغه خلک چې فرج لري عبارت دي له ښځو، دوه جنسیته نارینه وو او هغه کسان چې د زیږون پر مهال ښځې زیږېدلې وي. |
| زیلانځ | Womb | وامب | یو ګردی غړی د بدن دننه د ټیټې ګېډې په ساحه کې. دا هغه ځای دی چې هلته ماشوم لوېږي کله چې تاسو امېندواره یاست. هغه خلک چې سرویکس لري عبارت دي له ښځو، دوه جنسیته نارینه او هغه ښځې چې د زیږون پر مهال نارینه زیږېدلې وي. |

## ستاسو په ژبه کې نور معلومات

موږ د دغو موضوعاتو په هکله ستاسو په ژبه کې معلومات لرو:

| د سرطان ډولونه | له سرطان سره تعامل کول |
|---|---|
| • د سینې سرطان<br>• د ستونې سرطان<br>• د لویو کولمو سرطان<br>• د سږي سرطان<br>• د پروستات سرطان<br>**درملنې**<br>• کیموتراپي<br>• رادیوتراپي<br>• جراحي عملیات | • سرطان او کرونا وایروس<br>• د ګټو غوښتنه کله چې سرطان لرئ<br>• د خوړلو ستونزې او سرطان<br>• د ژوند پای<br>• سالم خوراک کول<br>• د سرطان په دوران کې د مصارفو مرسته<br>• که ستاسو سرطان تشخیص شوی وی - لنډه لارښوونه<br>• د سرطان د درملنې جانبي عوارض<br>• ستړیا (ستوماني) او سرطان<br>• څنګه خپل د ځانه سره مرسته کولای شئ |

د دغو معلوماتو د کتلو لپاره، **macmillan.org.uk/translations** ته مراجعه وکړئ

## مراجع او مننې

دغه معلومات د Macmillan د سرطان د ملاتړ د سرطان د معلوماتي پراختیا د ټیم په واسطه لیکل او تحریر شوي دي. دا د ژباړې شرکت لخوا ستاسو په ژبه ژباړل شوی.

شامل شوي معلومات د Macmillan د کتابګوټي په اساس دي چې **د رادیوتراپۍ د پېژندې** په اړه دی. موږ کولای شو تاسو ته یوه کاپي واستوو، اما بشپړ کتابګوټی یوازې په انګلیسي ژبه شتون لري.

د دغو معلوماتو بیا کتنه د اړونده متخصصینو له خوا ترسره شوې ده او د لوړ پوړي طبي کره کتونکي، ډاکټر ډېوېډ ګېلایګان، مشاور آنکولوجېسټ په واسطه تصویب شوي دي.

له هغو خلکو څخه ډېره مننه چې د سرطان له امله اغېزمن شوي دي او د دغو معلوماتو بیاکتنه یې کړې ده.

د هغو سرچنو په هکله د ډېرو معلوماتو لپاره چې موږ یې زموږ ټول معلومات د غوره شته شواهدو په اساس دي. کاروو، په مهربانۍ سره له موږ سره **د** cancerinformationteam@macmillan.org.uk له لارې اړیکه ونیسئ

MAC12465_Pashto

| |
|---|
| محتوی بیا کتل شوې: د اګست 2022 |
| راتلونکي پلان شوي بیاکتنه: 2025 |

موږ هره هڅه کوو ترڅو ډاډ ترلاسه کړو چې هغه معلومات چې موږ یې چمتو کوو دقیق او وروستي معلومات دي اما دا باید ستاسو د وضعیت سره سم د مسلکي مشورې د بدیل په توګه ونه کارول شي. تر هغه ځایه چې د قانون لخوا اجازه ورکړل شوې، Macmillan په دې خپرونه کې د هر هغه معلوماتو د کارولو یا د دریمې ډلې د معلوماتو یا د وېب پاڼې د شاملو معلومات یا راجع شویو معلوماتو مسؤلیت نه مني.

د Macmillan سرطان ملاتړ2022، په انګلستان او ویلز (261017)، سکاټلینډ (SC039907) او آئل آف مین (604) کې ثبت شوې خیریه موسسه. همداراز په شمالی ایرلنډ کې فعالیت کوي. د ضمانت په واسطه محدوده شوې کمپني، چې په انګلستان او ویلز کې په 2400969 شمېره ثبت شوې ده. آئیلز آف من کمپني نمبر 4694F. ثبت شوی دفتر: Albert Embankment, London SE1 7UQ. VAT 89 شمېره: 668265007.

Trusted Information Creator

Patient Information Forum

Radiotherapy: Pashto

# Radiotherapy

This information is about radiotherapy.

Any words that are underlined are explained in the word list at the end.
The word list also includes how to say the words in English.

Many people with cancer will have radiotherapy as part of their treatment. There are different types of radiotherapy. We explain the main types in this information.

Some people will also need other treatments, such as chemotherapy or surgery. We also have information in your language about these treatments.

If you have any questions about this information, ask your doctor or nurse at the hospital where you are having treatment.

You can also call Macmillan Cancer Support on freephone **0808 808 00 00**, 7 days a week, 8am to 8pm. We have interpreters, so you can speak to us in your own language. When you call us, please tell us in English which language you need.

There is more cancer information in your language at **macmillan.org.uk/translations**

## This information is about:


- What is radiotherapy?
- Why is radiotherapy given?
